# تاسو به جنت ته داخل نه شئ تر څو مو چې ايمان نه وي راوړی، او تر هغه به مؤمنان نه شئ تر څو چې له يو بل سره مينه ونه لرئ، آيا زه تاسې ته د داسې يو څه لارښوونه ونه کړم چې که چېرته مو وکړ نو مينه به مو سره پيدا شي؟ په خپلو منځونو کې سلام خپور کړئ

له ابو هريره -رضي الله عنه- څخه روايت دی وايې چې رسول الله -صلی الله عليه وسلم- فرمايلي دي: «تاسو به جنت ته داخل نه شئ تر څو مو چې ايمان نه وي راوړی، او تر هغه به مؤمنان نه شئ تر څو چې له يو بل سره مينه ونه لرئ، آيا زه تاسې ته د داسې يو څه لارښوونه ونه کړم چې که چېرته مو وکړ نو مينه به مو سره پيدا شي؟ په خپلو منځونو کې سلام خپور کړئ».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم څرګنده کړه چې جنت ته به يوازې مؤمنان داخليږي، او ايمان نه بشپړيږي او د اسلامي ټولنې حالت تر هغې نه سمبېږي تر څو په خپلو کې له يو بل سره مينه ولري. بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم غوره کارونو ته لارښوونه وکړه چې له لارې يې مينه عامېږي، هغه د مسلمانانو ترمنځ د سلام اچولو خپرول دي، چې الله جل جلاله د خپلو بندګانو لپاره ستړي مه شي ګرځولې ده.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee